عَلَيْكَ بِكَثْرَةِ السُّجُودِ لِلَّهِ، فَإِنَّكَ لَا تَسْجُدُ لِلَّهِ سَجْدَةً، إِلَّا رَفَعَكَ اللهُ بِهَا دَرَجَةً، وَحَطَّ عَنْكَ بِهَا خَطِيئَةً

له مَعْدَانَ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ الْيَعْمَرِي څخه روايت دى وايي: د رسول الله صلى الله عليه وسلم له ازاد شوي غلام ثوبان سره مخ شوم، نو ورته مې وويل: په داسې يو عمل مې خبر کړه چې الله تعالى مې پرې جنت ته داخل کړي؟ يا وايي چې ومې ويل: هغه عمل چې الله تعالى ته ګران وي، نو چپ شو. بيا مې ترې پوښتنه وکړه، نو چپ شو، بيا مې ترې په دريم ځل پوښتنه وکړه، نو ويې ويل: پدې اړه مې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه، نو ويې فرمايل: «عَلَيْكَ بِكَثْرَةِ السُّجُودِ لِلَّهِ، فَإِنَّكَ لَا تَسْجُدُ لِلَّهِ سَجْدَةً، إِلَّا رَفَعَكَ اللهُ بِهَا دَرَجَةً، وَحَطَّ عَنْكَ بِهَا خَطِيئَةً» « الله تعالى ته ډېرې سجدې کوه، ځکه چې ته الله ته هره سجده کوې، الله تعالى دې پرې درجه لوړوي، او يوه ګناه درڅخه تويوي» معدان وويل: بيا له ابو الدرداء سره مخ شوم نو پوښتنه مې ترې وکړه، نو هغه خبره يې راته وکړه لکه څنګه چې ثوبان راته کړې وه.

[صحيح دى] [مسلم روايت کړى دى]

له پېغمبر صلى الله عليه وسلم څخه د هغه کار په اړه پوښتنه وشوه چې جنت ته د ننوتلو سبب ګرځي، يا د هغه عمل په اړه چې الله تعالى ته زيات ګران وي. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم پوښتونکي ته وويل: په لمانځه کې زياتې سجدې کوه، ځکه ته چې الله تعالى ته هره سجده کوې، نو الله دې پرې درجه لوړوي او يوه ګناه درته بښي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3732

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee